احسان‌الله اریزی
۲۰۲۳/۰۸/۲۲

# نړیوالي ټولنې

## ۷۵ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**

**آسیايي ټولنې:**

**۱ – د جنوبی اسیا د سیمه ییزی همکاری ټولنه- South Asia Association for Regional Coorporations (SAARC)**

د بنګله دیش ولسمشر ضیا الرحمن، د تېرې پیړی په اوبایمه لسیزه کې، د سویلي اسیا د سیمه ییزه همکارۍ ټولنې د جوړېدو وړاندیز وکړ، چې په کال ۱۹۸۳ کې د کولمبو (سریلانکا) په غونډه کې د هند، پاکستان او سریلانکا له تاوده هرکلي سره مخامخ شو. د ۱۹۸۵ د دسمبر په اتمه، په ډاکه کې د جنوبي آسیا ۷ هېوادونو (هندوستان، بنګله دیش، پاکستان، بوتان، نیپال، سریلانکا او مالدیف) د سویلي آسیا د سیمه ییزې همکارۍ ټولنه یا سارک SAARC جوړه کړه.

د SAARC د جوړېدو په اعلامیه کې راغلي و، چې دا اوه هېوادونه په لاندې پنځو برخو کې ګډ کار ته چمتو دي: د کرنې او کلیوالي سیمو پراختیا؛ اړیکې یا مخابرات؛ علوم، تکنالوژي او هوا پېژندنه او روغتیايي خدمات؛ ترانسپورت او د انساني سرچینو پیاوړتیا.

د کال ۲۰۰۷ په اپریل کې، د SAARC په څوارلسمه غونډه کې، افغانستان د هند د کال ۲۰۰۵ په وړاندیز، د ټولنې د اتم غړي په توګه ومنل شو. ایران، چین، استرالیا، میانمار (برما)، ایران، اروپايي ټولنه، جاپان، جنوبي کوریا، موریشیس، امریکا متحده ایالات، ایران او چین د SAARC څارونکي (ناظر) غړي دي[1].

اهداف: SAARC په جنوبي آسیا کې یوه اقتصادي او سیاسي ټولنه ده چې د دې اهدافو له پاره کار کوي:

- د جنوبي آسیا د خلکو د ژوندانه کیفي بنوالي او هوساینه،
- په سیمه کې د اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي پرمختګونو ګړندی کول او د دې خلکو د با عزته ژوندانه د امکاناتو برابرول،
- د SAARC هېوادونو تر منځ د عمومي ځان بسیاینې پیاوړتیا،
- د SAARC هېوادونو تر منځ د متقابله پوهاوي او اعتماد غښتلي کوي،
- په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، علمی او تخنیکي برخو کې، د ګډ کار او همغږي پیاوړتیا،
- له نورو هغو هېوادونو او سیمه ییزو یا نړیوالو ټولنو سره د ګډ کار هڅونه چې ورته اهداف لري .[2]

SAARC په کورنیو چارو کې د نه مداخلې او یو د بل د ځمکني تمامیت، سیاسي خپلواکي او ملي واکمنۍ په پام کې نیولو سره، د ټولنې په چوکاټ کې همکاري پیاوړي کوي؛ خو دا هیلې له بده مرغه په عمل کې ډېرې نه دي پوره شوي او داسي ستونزې لکه د هند او پاکستان اوږده لانجه او له افغانستان سره د پاکستان اوږده دښمني، د SAARC د اهدافو د تحقق مخه نیولې ده .[3]

جوړښت: سرمشریزه، د وزیرانو شورۍ، د بهرنیو چارو د استازو دایمي کمیته، د پلان جوړوني کمیته، تخنیکي کمیټه او دارالانشا د SAARC اداره کوونکي ارګانونه دي:

سرمشریزه: دا د SAARC تر ټولو لوړ اداره کوونکی ارګان دی. د سرمشریزې غونډې په کال کې یو ځلې په یو غړي هېواد کې جوړېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د وزیرانو شورى: دا د غړو هېوادونو، د بهرنيو چارو د وزيرانو غونډه ده چي په کال کي دوه ځلي (او يا ډېر) جوړېږي او دنده لري چي د ټولني تګلارې او کړنلارې وټاکي، د سيمه ييزه ګډ کار پرمختګ وڅېړي، د ګډ کار له پاره نوي طرحې وړاندې کړي او د SAARC د اهدافو د تحقق له پاره کار وکړي.

دايمي کمېټه: دا د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو کمېټه ده، چي پروژې د سرمشريزې د تصويب له پاره چمتو کوي، د SAARC کارونه څاري او د ګډو کارونو د پرمختګونو د همغږي تر څنګ، د هغو په هکله سرمشريزې او وزيرانو شورى ته راپورونه چمتو کوي.

تخنيکي کمېټه: دا کمېټه د SAARC د پروګرامونو د تطبيق، همغږي او څار دنده په غاړه لري.

دارالانشا: د SAARC دارالانشا د کال ۱۹۸۷ د جنوري په ۶، په کټمندو (نيپال) کي جوړه شوه او دنده لري چي د غړو هېوادونو د استازو څوګونه غونډې جوړې کړي، د SAARC د کارونو په انسجام کي برخه واخلي او د SAARC هېوادونو تر منځ، او د دې هېوادونو او نورو نړېوالو ټولنو تر منځ د اړيکو يو کانال واوسي.

دارالانشا يو سرمنشي، اته رييسان او يو شمېر مامورين لري. سرمنشي د SAARC د وزيرانو شورى له خوا د انګليسي الفبا په ترتيب، د غړو هېوادونو څخه غوره بلل کېږي او اته رييسان د غړو هېوادونو په وړانديز، د SAARC د سرمنشي له خوا ټاکل کېږي .[4]

فعاليتونه: SAARC له جوړښته تر اوسه، د غړو هېوادونو تر منځ د ګټورو اقتصادي اړيکو د جوړولو او پراختيا له پاره ډېر کار کړى دى. SAARC د ستونزو د حل په لارو چارو غور کوي او هڅه يې دا ده چي داسي پرېکړې وکړي، چي له دوى سره د اقتصاد په چټک پرمختګ کي مرسته وکړي او د SAARC هېوادونو تر منځ اقتصادي واټن کم کاندي. د SAARC هېوادونه خپلمنځي همکاري او همغږى ورځ په ورځ پراخه کېږي. د دوى ډېرې هڅې د ټکنالوژۍ رواجول، د اقتصادي پرمختګ چټک کول، د معلوماتو خپرول، د ټولنيزو ستونزو له منځه وړل او د نشه يي توکو او ترهګرى سره مبارزه ده او سوداګرۍ او صادراتو او وارداتو ته لمړيتوب ورکول کېږي.

په ۱۹۹۱ کي SAARC په سيمه کي د توليداتو، خدماتو او سوداګرۍ څېړنه بشپړه کړه او له همدې امله په اقتصادي او سوداګريزو برخو کي د اغېزمن ګډ کار کمېټه جوړه شوه.

سره له دې چي تر دې وخته SAARC په سرمشريزه کي، په آزاده سوداګرۍ خبرې شوې وې او هند له نيپال، بوټان، سريلانکا او مالديف او حتى بنګله ديش او پاکستان سره څو تړونونه لاسليک کړي وو؛ خو ځينو سياسي او اقتصادي ستونزو، د دې تړونونو د ښه تطبيق مخه ډب کوله. په کال ۱۹۹۳ يا دSAARC په اوومه سرمشريزه کي په سوداګرۍ کي د ګمرکي تعرفو د ورو – ورو کمېدو تړون لاسليک شو.

په اتمه سرمشريزه (۱۹۹۵) کي د SAARC هېوادونو پراختيايي صندوق جوړ شو. په کال ۲۰۰۲ کي په جنوبي آسيا کي د لوږې د ورکاوي خپلواکه کميسيون منظور شو، چي خوراکي توکو ته د جنوبي آسيا هېوادونو د خلکو بيړنۍ اړتياوې وڅېړي، او د خوراکي توکو د زېرمو په جوړولو کي مرسته وکړي .

د SAARC په دولسمه سرمشريزه (اسلام آباد) ۲۰۰۴ کي، د جنوبي آسيا د آزادې سوداګرى تړون يا SAPTA لاسليک شو، چي په ۲۰۰۶ کي اجرايي وګرځېد او هوکړه وشوه چي تر کال ۲۰۰۷ پورې به، ګمرکي محصول ۲۰% ته ټيټ شي. غړو هېوادونو په کال ۲۰۰۵ کي د پيسو د يو صندوق تړون هم لاسليک کړ، او په دارالانشا کي يې يوه مالي څانګه پرانسته. په هغه غونډه کي دا پرېکړه هم وشوه چي د کال ۲۰۱۶ تر پيله پورې به، د SAARC هېوادونو ټول صادرات له ګمرکي محصوله معاف شي؛ خو د هند او پاکستان، افغانستان او پاکستان، پاکستان او بنګله ديش او هند او سريلانکا تر منځ سياسي ستونزو او يو شمېر نور عواملو، د دې ارمان د پوره کېدو او د دې هېوادونو د ګړندي پرمختګ او د خلکو د هوسايني مخه نيولې ده.[5]

---

[1] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۲۳-۲۲۲

[2] سازمانهای بين المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۷۳ – ۲۷۵

[3] پوهاند محمد بشير دوديال، د جنوبی اسيا د همکارئ سازمان، انترنت

[4] سازمانهای بين المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ، ص ۲۷۳ – ۲۷۶.

[5] ويکيپيديا- پښتو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ